امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۹ الی ۲۴ عقرب ۱۴۰۳
شماره هشتاد و دوم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کابل ښار په دوو ځایونو کې د 1000 زیانمنو کورنیو لپاره د خوراکي او غیرخوراکي مرستو د وېش بهیر پیل کړ

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د کابل ښار په دوو جلا ځایونو حبیبیه لیسې او د دې ادارې په مرکزی ګدامونو کې د ۱۰۰۰ زیانمنو کورنیو لپاره د خوراکی او غیرخوراکی مرستو د وېش بهیر پیل کړ.

په دې مراسمو کې چې د قرآن عظیم الشان په څو مبارکو آیتونو سره پیل شول، د ادارې سرپرست محترم ترابی صاحب، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم ملا جانان سائق ، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم مولوی نجیب الله انوری، د ملک...

ادامه در صفحه۲



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د آغاخان بنسټ سره د لسو بنسټیزو پروژو د جوړولو په موخه د ګډو همکارویو تفاهم نامه لاسلیک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په افغانستان کې د آغاخان د پرمختیایی شبکې همغږی کوونکی او د دې بنسټ له رئیس سره په خپل کاری دفتر کی وکتل...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په افغانستان کې د UN-OCHA له رئیسی او ورسره مل پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د ملګرو ملتونو د بشری مرستو د همغږۍ دفتر له رئیسی ایزابل موسارد او مل پلاوی سره وکتل...

ادامه در صفحه۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او اکشن ایډ مؤسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د اکشن ایډ مؤسسې د پروګرامونو د عمومی مسؤل او سرپرست سایمون ونکور او د راغلي مل پلاوی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل...

ادامه در صفحه۳

# له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې سرپرست د کابل ښار په دوو ځایونو کې د ۱۰۰۰ زیانمنو کورنیو لپاره د خوراکي او غیرخوراکي مرستو د وېش بهیر پیل کړ



له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د کابل ښار په دوو جلا ځایونو حبیبیه لیسې او د دې ادارې په مرکزي ګدامونو کې د ۱۰۰۰ زیانمنو کورنیو لپاره د خوراکي او غیرخوراکي مرستو د وېش بهیر پیل کړ.

په دې مراسمو کې چې د قرآن عظیم الشان په څو مبارکو آیتونو سره پیل شول، د ادارې سرپرست محترم ترابی صاحب، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم ملا جانان سائق ، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم مولوی نجیب الله انوری، د ملک سلمان بشردوستانه مرکز استازی محترم فضل الله صاحب، د ORCD Global موسسې استازی او خبریالانو ګډون درلود. محترم ترابی صاحب د ملک سلمان بشردوستانه مرکز څخه مننه وکړه او ویې ویل چې دې مرکز پخوا هم د افغانستان له خلکو سره ډېرې مرستې کړې دی. او اوس هم د هېواد په 13 ولایتونو کې، د ۱,۳۰۰,۰۰۰ ډالرو په ارزښت، نږدې ۵۰۰۰ راشنه د غیر خوراکی موادو چې هر راشن عبارت دی له یوباب خیمه، یو تخته فرش، پنځه تختې کمپلې او یو د لوښو چې د بخار دیګ په شمول ۲۱ قلمه د آشپزی سامان پکښی کی دی او هر راشن د ۲۵۰ دالرو په ارزښت قیمت لری، د زیانمنو کورنیو لپاره برابر شوی دی چې له دې جملې څخه ۵۰۰ راشنه د کابل ولایت زیانمنو کورنیو لپاره ځانګړې شوې دی او نن یې وېش پیل شو.

ورپسې، د ORCD Global موسسې استازی انجنیر متین، د مرستو د وېش بهیر په اړه خبرې وکړې او د دې ادارې له همکارۍ څخه یې قدردانی وکړه.

په دویم پړاو کې، د ادارې سرپرست د مرکزی ګودامونو ځای ته ولاړ او د بیړنیو حالاتو د عملیاتو مرکز رئیس له محترم قاری محمد خوشحال زمانی سره یو ځای یې ۵۰۰ نورو کورنیو ته د مرستو وېش پیل کړ. نوموړی په دې بهیر کې له زیانمنو سره خواخوږی وښوده او هری کورنی ته یې ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، یوه توشکه، یوبالښت او یوه رجایی وویشله. او دا د مرستو د وېش بهیر به په مرکز او ولایتونو کې دوام لری.

د یادونې وړ ده چې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې څخه مننه وکړه، خو دغه مرستې یې کافی ونه ګڼلې او د لا ډېرو مرستو غوښتنه یې وکړه.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او اکشن اېډ مؤسيسې تر منځ دکړو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابی د اکشن اېډ مؤسسې د پروګرامونو د عمومی مسؤل او سرپرست سايمون ونکور او د راغلی مل پلاوی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب په ياده غونډه کې ياده مؤسيسه وهڅوله چې نورې مرستندويه او بنسټيزې پروژې هم عملی کړی او همدارنګه يې د مرغاب ولسوالۍ د هغو سيلاب ځپلو خلکو ستونزې يادې کړلی چې د غور ولايت مرکز ته بې‌ځايه شوی دی نومووړی زياته کړه چې د ژمی د نږدې کېدو په پام کې نيولو سره بايد هغوی ته بېړنۍ مرستې ورسول شی.

نوموړی همدارنګه وويل لکه څنګه چې موږ د مؤسيساتو کارونه په بېړه خلاصوو تمه لرو چې تاسو هم په خپلو چارو کې چټکتيا راولی.

ورسته د اکشن اېډ مؤسيسې د پروګرامونو مسؤل او سرپرست سايمون ونکور له مؤسساتو سره ددې ادارې د همکارۍ په اړه د خوښۍ څرګندونه وکړه او په غور ولايت کې يې د بې سرپنا کورنيو ته د سرپنا جوړولو په اړه وويل چی موږ پلان لرو هغو سيلاب ځپلو بېځايه شويو کورنيو ته چې د غور ولايت په مرکز کې مېشت دی د کور د کرايې لپاره نغدی مرستې هم ور کړو.

د يادونې وړ ده چی داکشن ايد موسيه د 550588 ډالرو په ارزښت 100 کورنيو ته دايمی سرپناه جوړوی چی په دې کې به 29 سرپناوې په مرکز فيروزکو کې،24 سرپناوې په شهرک ولسوالۍ کې، 22 سرپناوې په چهار سده ولسوالۍ کې او 25 سرپناوې په مرغاب ولسوالۍ کې جوړېږی هرې کورنۍ ته به 2700 ډالره په درې قسطه په درېيو مياشتوکې د کورونو د جوړيدو لپاره ويشل کيږی چې په لومړی قسط کې 1000 ډالره په دويم قسط کې 1200 ډالره او په درېيم قسط کې 500 ډالره ورکول کېږی

همدارنګه ياده مؤسيسه پلان لری چې په يادو څلورو ولسواليو کې د 80 زره ډالرو په ارزښت څلور عامه المنفعه ودانۍ جوړې کړی

په ورته وخت کې ياد سازمان پلان لری چې د پروژې د کارکوونکو لپاره د يو وخت ډوډۍ برابرولو په موخه څلور پخلنځی د اړينو وسايلو سره جوړ کړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په افغانستان کې د UN-OCHA له رئیسی او ورسره مل پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د ملګرو ملتونو د بشری مرستو د همغږۍ دفتر له رئیسی ایزابل موسارد او مل پلاوی سره وکتل...

ترابی صاحب زیاته کړل چې د ژمی د نږدې کېدو په نظر کې نیولو سره باید مؤسیسې خپل کارونه ګړندی کړی

نوموړی د اوچا پلاوی ته ډاډ ورکړ چې که په هر ولایت کې له ستونزو سره تاسو مخ کیدلاست موږ به یې د حل لپاره هڅې وکړو.

ورسته د اوچا د دفتر رئیس یایزابل موسارد وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې په کارونو کې چټکتیا روښانه ده او موږ له تاسو څخه مننه کوو هغه همدارنګه څرګنده کړه چې د تېرو کلونو په پرتله به په راتلونکی کال کې د پېښو اداری سره زیات کومکونه وسی

په همدې حال کې په افغانستان کې د اوچا د ستراتیژیکې برخې مسؤلې مېرمن مانیا ویدیچ د وچکالی د اټکل لپاره د کاری ټیم د جوړېدو خبر ورکړ، چې په هغه کې د UN-OCHA، IOM، IFRC،FAO او UNICEF دفترونه ګډون لری. هغوی وویل چې یو ټیم د راتلونکی کال احتمالی وچکالۍ د وړاندوینې لپاره جوړ شوی او په پیل کې به د افغانستان د شمال یوه برخه تر پوښښ لاندې راولی.

هغوی همدارنګه وویل چې د افغانستان د وچکالۍ د مدیریت لپاره 10 میلیونه ډالر ځانګړی شوی دی او که چیرې یاد کاری ګروپ اعلان وکړی چې هېواد له وچکالۍ سره مخ دی دغه پیسې به د وچکالۍ پر وړاندې د مقاومو کرنیزو تخمونو وېش او زیانمنو خلکو لپاره د بدیل معیشت برابرولو او څارویو لپاره مصرف شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د آقاخان بنسټ سره د لسو بنسټیزو پروژو د جوړولو په موخه د ګډو همکارویو تفاهم نامه لاسلیک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په افغانستان کې د آقاخان د پرمختیایی شبکې همغږی کوونکی او د دې بنسټ له رئیس سره په خپل کاری دفتر کی وکتل...

ترابی صاحب وویل چې د افغانستان خلک هم بنسټیزو پروژو هم بشری او هم بیړنیو مرستو ته اړتیا لری او موږ ټولو مؤسیساتو ته د خلکو د خدمت لپاره زمینه برابروو او زموږ ولایتی ریاستونه په ټولو ولایتونو کې له مرستندویه ادارو سره همکاری کوی.

نوموړی زیاته کړه چې خلکو ته مرسته رسول او له مؤسیساتو سره همکاری کول زموږ له اساسی دندو څخه ده...


ادامه در صفحه ۵

ادامه صفحه ۴

دآقاخان بنسټ رئیس نجم الدین نجم د دې ادارې له مشرتابه او کارکوونکو څخه د مؤسیساتو د چارو د پر وخت ترسره کولو له امله مننه وکړه او ویې ویل چې موږ د ژمنه شویو پروژو د پلی کېدو په برخه کې پر خپل تعهد ولاړ یو او هڅه کوو چې د افغانستان خلکو لپاره نور هم زیات کارونه ترسره کړو.

د یادونې وړ ده چې د 300411 دری لکه څلور سوه یوولس ډالرو په ارزښت لس بنسټیزې پروژې د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ په بغلان مرکزی، برکه، او دهنه غوری ولسوالیو کې پلی کېږی، چې د هرې پروژې لپاره 20 زره ډالر بودیجه ځانګړې شوې ده د یادونې ده چې دا پروژې به د خلکو د اړتیاوو له مخې د استنادی دیوالونو، اوبو رسولو کانالونو  او نورو عامه تاسیساتو جوړولو په برخه کی وی

## له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې سرپرست د آقاخان بنسټ د جینوا د مرکزی د فتر د طبعی پیښو د رئیس سره وکتل




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د آقاخان بنست جینوا د مرکزی دفتر د طبعی پیښو د رئیس شادمان حاجی بیګوف د اجرائیه رئیس راحت الله بیګ حقوقی مسؤل عصمت الله عصمتی او د اړیکو مسؤل شکورالله مدنی سره په خپل کار دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب له هرڅه مخکی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته کړل چی آقاخان بنسټ هغه بنسټ دی چی تل یی زموږ سره همکاری ده او یوازی نن ورځ  د آقاخان بنسټ بیلابیلو مسؤلینو زموږ سره دری مجلسه کړی دی.

ترابی صاحب همدارنګه وویل چی موږ هغه سیمی چی خطر ورته متوجی وی او یاهم زیانمن شوی کورنۍ شتون پکښی لری موږ ډیټابیس سیستم لرو او ټول هلته ثبت او راجستر دی.

دجینوا دمرکزی دفتر د طبعی پیښو رئیس شادمان حاجی بیګوف وویل چی خوښ یو چی موږ ته مو وخت او زیاته یې کړل چی له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې تل زموږ سره همکاری کړه ده او موږ.ورڅخه ځانګړی مننه کوو او تل یی د طبعی او غیر طبعی پیښو پر وړاندی چټموالی ښودلی دی.

حاجی بیګوف همدارنګه زیاته کړل موږ هڅه کوو چې هغه نقطې ځان ته معلومی کړو چی خلګ ورڅخه د خطر ویره لری او موږ به تل هڅه کوو چی افغان اولس ته اساسی او بنسټیز کارونه وکړو او تل هڅه کوو چی زموږ په پروژو کی شفافیت موجود وی.

# له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او آقاخان پراختیایي شبکې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د آقاخان د پراختیایي شبکې د حقوقي مسؤل عصمت الله عصمتي او د یادې شبکې د مل پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
ترابي صاحب د آقاخان پراختیایي شبکې راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې خوشاله یو چې نن یو داسې تفاهم نامه لاسلیک کوو چې په هغه سره زموږ اولس ته په بیلابیلو برخو کې خدمتونه ترسره کیږي او ددې شبکې د ټول کاري ټیم څخه یې مننه وکړه  چې زموږ دزوریدلي اولس سره همکاري کوي.
همدارنګ  ترابي صاحب د ژمي په رارسیدو سره یې  د ټولو نړیوالو او داخلي موسیسو او سازمانونو څخه غوښتنه وکړه چې خپلې مرستې  د مستحقو کسانو  لپاره زیاتې کړي .
ديادې شبکې حقوقي مسؤل عصمت الله عصمتي  وویل چې پراختیایي شبکه یوه لویه پروژه او بنسټ دی  چې په بیلابیلو برخو کې لکه صحت زراعت پوهنه او مخابراتو او استینادي دیوالانو په برخه کې اولس ته خدمت وړاندې کوي.
ښاغلي عصمتي زیاته کړل چې خوښ یو چې له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي اداره زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوي  او دیادې ادارې دټول کار ټیم څخه یې مننه وکړل او ترڅنګ وویل چې دیادې ادارې سره باید بیلابیل موسیسات او سازمانونه دطبعي او غیرې طبعي پیښو لپاره مرسته وکړي ترڅو افغان اولس پر وخت د یادو مرستو څخه برخمن سي.
دیادوني وړ ده چې  یاده موسیه د996000 ډالرو په ارزښت د بغلان ولایت په مرکزي بغلان، دهنې غوري او برکه ولسوالیو کې دسیلاب ځپلو بې سرپنا کورنیو ته 300 کورونه جوړوي.
په ورستیو کې  تفاهم نامه لاسلیک سوه او پر ګډو همکاریو دداوم غوښتنه وسوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او مېشن ایسټ موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي او د مېشن ایسټ مؤسیسې له عمومی رئیس سبرتادی او ددې مؤسیسې د پروګرامونو مسئول سهراب کاکړ سره وکتل.

ترابي صاحب په دې ناسته کې د خلکو سره د مرستې په برخه کې د مؤسیسو د مرستو هرکلی وکړ او ویې ویل چې موسیسې باید خپلې مرستې له هر موسم سره سم او د خلکو اړتیاوو ته په پام کی نیولو سره وکړی.

نوموړی همدا راز وویل چې موږ ستاسو د مرستو رسولو لپاره زمینه برابروو او تاسو باید په خپلو چارو کې چټکتیا راولئ.

ورسته دمیشن ایسټ مؤسیسې رئیس سبرتادی د یادې موسسې رئیس په دې اړه خوښۍ ښرګنده کړه چې دغه اداره به د موسسو چارې په ښېړه سرته رسوی او د یادی موسسی د فعالیتونو په اړه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست ته معلومات وړاندې کړل

هغه وویل چې موږ له 1384 لمریز کال راهیسې په شمال ختیځ زون کې د زراعت، روغتیا، طبیعی څېرمو او د پېښو د خطرونو کمولو په برخه کې کار کوو نوموړې زیاته کړه چې د دغه تفاهم نامې له لاسلیک وروسته به ژر تر ژره دغه تړون عملی شی.

د یادونې وړ ده چې د دغی تفاهم نامې له مخې به چې له یادې موسیسې سره لاسلیک شو په مجموع کې د 697049 ډالرو په ارزښت د ژمی له امله 1854 احتمالی زیانمنو او مستحقو کورنیو ته به د بدخشان ولایت د ارغنخواه، درایم، درواز پایین او تګاب ولسوالیو کې د ژمی لپاره د سون توکو برابرولو په موخه هرې کورنۍ ته 200 ډالر وویشل شی.

همدارنګه له یاد شمېر کورنیو څخه به 1557 کورنیو ته د یادو پیسو سربېره 74 ډالر د تودو جامو د برابرولو لپاره او 1353 کورنیو ته به د تودو کمپلو وېش هم ترسره شی.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ سرپرست د هنډیکپ نړیوالې مؤسیسې له عملیاتی مسؤل سره وکتل




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د هنډیکپ مؤسیسې د عملیاتی مسؤل یوبان مالا او د د اړیکو مسؤل حبیب الرحمن ابراهیمی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب له هرڅه مخکی دیادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او مننه ځینی وکړه چی تل زموږ سره همکاره پاته شوی دی او راغلی پلاوی ته یې د هرډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

همدااراز ترابي صاحب زیاته کړل چی موږ خوښ یو چی تیر ځل مو ددې ادارې مواد چی ګاونډی هیواد مرسته کړی وه په خپلو ګدامو کی راته خوندی کړل.

دهنډیکپ مؤسیسې عملیاتی مسؤل یوبان مالا دیادی ادارې دسرپرست څخه ځانګړی مننه وکړه او وویل چی دې ادارې تل زموږ سره همکاری کړی ده او موږ به تل هغه خدمات چی زموږ په واک وی ونه دریغوو.

همدارنګه یې زیاته کړل چی د هرات په زون کی موږ عصری ګدامونه لرو او له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې مواد او توکی به په وړیا او خوندی توګه وساتو.

## له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او GP نړیوالې همکارۍ مؤسسې ترمنځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د GP د مؤسیسې درئیسی کورا بیټنګ او داړیکو مسؤل محمد عابد طیب سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب د یادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او مننه یی ورڅخه وکړل چی په سختو شرایطو کی دخلګو لاسنیویۍ کوی او مرسته ورسره کوی.

همدا راز یی زیاته کړل چی مؤسیسات باید دژمی په رارسیدو سره خپلی مرستی زیاتی او دوامداره کړی ترڅو زیانمنی کورنۍ پر وخت دمرستو څخه برخمنی سی.

د GP مؤسیسې رئیسی کورا بیټنګ د یادی ادارې د سرپرست دکارونو څخه زیاته خوښی وښوده او زیاته یې کړه چی موږ به تل هڅه کوو چی زیانمنو کورنیو ته پر وخت رسیدنه وکړو او مرستی ورسره وکړو.

د یادونی وړ ده چی یاده مؤسسه د 59100 ډالرو په ارزښت دغور ولایت په مرکز کی 707 کورنیو ته غذایی مواد ویشی چی هری کورنۍ ته به یوه بوری اوړه 50 کیلو، یو پارسل 20 کیلو وریجی،5 پنځه لیتره غوړی، او 7 کیلو نخود ورکول کیږی.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۸۱۴ اړمنو کورنیو سره د ژمنی توکو د دویم پړاو لپاره نغدی مرستې وکړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د تفاهمنامې له مخې، دغه سازمان هغو 814 زیانمنو او اړمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې چې مخکې لا د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لخوا مستحقې ثبت شوې وې.
په دې پړاو کې، هرې کورنۍ ته د یاد ریاست د استازي په شتون کې 2700 افغانۍ ور کړې چې جمله 2,197,800 افغانۍ 814 کورنیو ته ووېشل شوې.
په پام کې ده چې دغه کورنۍ به په راتلونکو شپږو میاشتو کې بیا هم د IRC کمېټې له لوري له نغدي مرستو برخه منې شي.

## له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې سرپرست د دارت مؤسیسی سره د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی  د دارت نړیوالی مؤسیسی  سرپرست میر عابد سادات او پروګرامو مسؤل محمد زاخیل شریفی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

دیادی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چی مؤسیسات باید په هره برخه کی دوامداره مرستی وکړی او خصوصاً دوقایوې پروژو په برخه کی ترڅو خلګ دپیښی (حادثې) ښکار نسی او وژغورل سی.

ترابی صاحب همداراز زیاته کړل چی د ژمنی توکو دویش په بهیر کی باید چټکیتا راولی ترڅو د اړتیا په وخت کی پر خلګو هغه مواد وویشی چی خلګ ورته ضرورت لری.

ددارت مؤسیسې سرپرست میر عابد سادات له هرڅه مخکی ددې ادارې دسرپرست څخه مننه وکړل چی تل یی هڅه کړی ده چی داخلی  او  نړیوالو مؤسیساتو ته  یی په مرکز او ولایتونو کی دمرستو دویش په برخه کی زمینه برابره کړی ده او تل یی همکاری کړی ده.

ښاغلی سادات وویل چی موږ به تل هڅه کوو چی داسی مرستی همیشه پر خلګو وویشو چی خلګ ورڅخه استفاده وکړی او هغه مواد به خلګو ته ورکړو چی خلګ ورته اړتیا لری.

دیادونی وړ ده چی  یاده مؤسسه د 693503 ډالرو په ارزښت د فاریاب ولایت په بلچراغ، دولت اباد او قیصار ولسوالیو کی 1734 زیانمنو کورنیو ته مرستی ویشی   چی هری کورنۍ ته به نغدی  200 ډالره معادل افغانۍ د سون دتوکو لپاره، 74 نغدی ډالره معادل افغانۍ د ژمنیو جامو لپاره او 57 ډالرو په ارزښت 5 دانی کمپلی ویشی.

## په بادغیس ولایت کې ۸۰۵ زیانمنو کورنیو سره د ۱۷ میلیونه او ۸۷۱ زره افغانیو مرستې وشوې



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د محترم مقام لخوا د کډوالۍ‌نړیوال سازمان سره د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، یاد سازمان د بادغیس ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همکارۍ, د وروستیو سیلابونو له امله زیانمنو 805 کورنیو ته په جوند، قادس، آب‌کمری، دره‌بوم، بالامرغاب ولسوالیو او د قلعه‌نو ښار په مرکز کې نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، ټولټال 17 میلیونه او 871 زره افغانۍ په داسې ډول ووېشل شوې چې هرې کورنۍ 22200 افغانۍ ترلاسه کړې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکشن ایډ مؤسیسې ترمنځ د ۱۱۳۱۴۶۶ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو دوې تفاهم نامې لاسلیک شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د اکشن ایډ مؤسیسې د پروګرامونو عمومی مسئول او سرپرست سایمون ونکور او د هغه مل پلاوی سره وکتل.

ترابی صاحب د یادې مؤسیسې پلاوی ته ښه راغلاست وویل او څرګنده یې کړه چې په هېواد کې د ټولو مؤسیسو لپاره د بشری فعالیتونو زمینه برابره ده او مونږ هڅه کوو ترڅو چې د هېواد په هر ولایت کې موسسه فعالیت کوی د مغوی لپاره د همکاری زمینه برابره کړو.

همدارنګ نوموړی وویل چې ددې ادارې ولایتی ریاستونو ته یې لارښوونه کړې چې له مؤسیسو سره همکاری وکړی او د مغوی ستونزې پر وخت حل کړی.

ورسته د اکشن ایډ مؤسیسې سرپرست سایمون ونکور له موسیسو سره ددې ادارې د همکارۍ له امله خوښی څرګنده کړه او زیاته یې کړه چې دا مؤسیسه د افغانستان خلکو ته په بېلابېلو برخو کې د مرستو رسولو لپاره هڅه کوی چې دا مرستې په خپل وخت اړمنو خلکو ته ورسوی.

د یادونې وړ ده چې یاده مؤسسه به د لومړۍ تفاهم نامې له مخې په کابل کې 1000 زیانمنو کورنیو ته د 574,263 ډالرو په ارزښت نغدی مرستې وویشی په داسی ډول چې 500 کورنیو ته په ده سبز ولسوالی کې او 500 نورو کورنیو ته په بګرامۍ ولسوالۍ کې، چې هرې کورنۍ ته به په درې قسطونو کې 468 ډالر (هر قسط 156 ډالر) ویشل کیږی

همدارنګ د دویمې تفاهم نامې له مخې به د 557203 ډالرو په ارزښت په غور او بامیان ولایتونو کی 1445 کورنیو ته د سون توکو، جامو او کمپلو دبرابرولو لپاره نغدی مرستی ورکول کیږی چی د غور ولایت په مرکز کی 879 کورنیو ته او د بامیان ولایت په مرکز کې 566 کورنیو ته نغدی مرستی ویشل کیږی.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۶ زیانمنو کورنیو سره نغدی مرستې وکړې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لخوا د DRC موسسې سره د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په بېلا بېلو ولسوالیو کې د وروستیو بارانونو او سیلابونو له امله 26 زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې په مجموع کې 244 زره او 400 افغانۍ وویشل شوې، چې هرې کورنۍ د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رییس الحاج قاری ثابت الله صدیقی او د DRC موسسې استازو په شتون کې 9400 افغانۍ ترلاسه کړې.

د مرستو ترلاسه کوونکو له یاد ریاست او موسسې څخه مننه وکړه چې هغوی ته یې پر وخت مرستې ورسولې.

## د اورلګېدو د مخنیوی لپاره د دایمی تخنیکی کمېټې نوبتی غونډه ترسره شوه



د اور لګېدو د مخنیوی لپاره د دایمی تخنیکی کمېټې نوبتی غونډه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د عمومی رئیس مولوی محمد عالم عالمیار په مشرۍ، د کورنیو چارو وزارت، ښار جوړونې او هستوګنې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، د کابل ښاروالۍ، د تېلو او ګازو ادارې، د افغان ملی بیمې ادارې، د افغانستان بانک، او د اطفایې د مسؤلینو په خضور کی ترسره شوه دا غونډه په تجارتی، هستوګنیزو او پمپ سټېشنونو کې د اور لګېدو د مخنیوی پلان په هکله جوړه شوې وه.

غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

ورسته پریکړه وشوه چی له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره، د اطفایې ریاست او نفت ګاز شرکت لخوا په ګډه به ټولو مارکیټونو، پمپ ستیشنونو او سوداګریز مرکزونه باندی نوی چیک لیستونه وویشی او ورسته به د اورلګیدنې ګډه کمیټه نظارت کوی او هغه چا چې احتیاطی تدابیر یې په پام کې نه وی نیولی او په دې برخه کې یې سرغړونه کړې وی د ریاست الوزرا اقتصادی معاونیت ته به معرفی کیږی تر څو چی د سرغړونکو مرکزونه مهرلاک شی.

غونډه په دعا کولو سره پای ته ورسېده.

## په کابل کې د بشری مرستو د لړۍ په ترځ کې؛ ۲۵۰ زیانمنو کورنیو، معلولینو او نابینایانو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس او ویاند، محترم الحاج مولوی محمد عبدالله جان سایق، په داسې حال کې چې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم مولوی نجیب الله انوری، هم شتون درلود، وویل: له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست د محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په لارښوونه، د بشری مرستو د وېش بهیر د زیانمنو او بې‌وزله کورنیو لپاره د هېواد په 34 ولایتونو کې روان دی.

محترم سایق زیاته کړه چې نن د 250 زیانمنو کورنیو، معلولینو او نابینایانو لپاره یوه بوجۍ 50 کیلویی اوړه، یوه بوجۍ 25 کیلویی وریجې، یو فامیلی کېټ او 10 کلچې صابون ووېشل شول.

نوموړی د ژمی په موسم کې د پېښو یادونه وکړه او څرګنده یې کړه چې موږ په ټول هېواد کې د ژمی موسم احتمالی پېښو له امله ټولو زیانمنو ته د رسیدنې لپاره چمتو یو.

په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې څخه د خوښۍ او مننې څرګندونې وکړې او د لا زیاتو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له زیانمنو، اړمنو او بېوزله کورنیو سره خوراکي مرستې وکړې



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې 27 زیانمنو، 236 اړمنو او بېوزله کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مشر حاجي قاري عبدالهادي، په دې اړه ووېل: 27 زیانمنو کورنیو ته د یاد ولایت په مرکز او ولسوالیو کې هرې کورنۍ ته 2 بورۍ اوړه 50 کیلویي او یوه بوره وریجې 50 کیلویي او 236 اړمنو او بېوزله هرې کورنۍ ته 1 بورۍ اوړه 50 کیلویي او یوه بورۍ وریجې 25 کیلویي ووېشل شوې.

د یاد ریاست مشر حاجي قاري عبدالهادي، همدارنګه ژمنه وکړه چې یوازې دا مرستې به نه وي بلکه په پکتیکا کې زیات خلک اړمن دي او د امکان په صورت به له هغوی سره نورې مرستې هم وکړي.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۳۰۳ زیانمنو کورنیو سره نغدي مرستې وکړې

د میدان ولایت وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د DRC موسسې، په بهسود ولسوالۍ کې 303 زیانمنو او بې سرپرسته کورنیو ته 3 میلیونه او 939 زره افغانۍ نغدي پیسې ووېشلې، او په دې مرستو کې د هرې کورنۍ لپاره 13000 افغانۍ په پام کې نیول شوې وې.

د زیانمنو او بې سرپرسته کورنیو سروې څه موده مخکې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د DRC موسسې له لورې په ګډه ترسره شوې وه، او په دې لړۍ کې د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله زیانمنې کورنۍشاملې وې.



همدارنګه، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مشر، محترم مولوی فیض الله جلالي یادو کورنیو ته ډاډ ورکړ چې، د افغانستان اسلامی امارت تل د خپل ولس ترڅنګ ولاړ دی او تل هڅه کوي چې د خپلو زیانمنو هېوادوالو لپاره د لا زیاتو مرستو زمینه برابره کړي.

## په واخان ولسوالۍ کې ۳۱۵ مستحقو کورنیو سره خوراکي مرستې ترسره شوې

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هستوګنې لپاره د آقا خان د دفتر په ملاتړ، د واخان ولسوالۍ اړوند 315 خورا بې وزله کورنۍ د خوراکي مرستو تر پوښښ لاندې راوستې.



د یادونې وړ ده چې هرې کورنۍ ته 200 کیلو اوړه، 12 لیتره غوړي، 12 کیلو لوبیا او 1.5 کیلو مالګه ووېشل شوه.

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست لخوا ۵۳۱ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیرخوراکی مرستې وېشل شوې



د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM په ملاتړ، د طبیعی پېښو له امله 531 زیانمنو کورنیو ته له کره سروې او ثبت وروسته په مرکز لښکرگاه کې نغدی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍکې هرې کورنۍته د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست مشر الحاج مولوی جمعه خان مستقیم په شتون کې 17250 افغانۍاو یو ژمنی کیټ ووېشل شو.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست په همغږۍ د ۲۸۷ زیانمنو او اړمنو کورنیو سره نغدی مرستې ترسره شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري د محترم مقام لخوا د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د IRC موسسې په مالی ملاتړ د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست, د طبیعی پېښو له امله 287 زیانمنو او اړمنو کورنیو ته له کره سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې د لومړی پړاو په مجموع کې 774 زره او 900 افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې او د دغو مرستو په ترڅ کې به هرې کورنۍ ته د 300 ډالرو معادل افغانۍ په څو پړاوونو کې وېشل کيږي.

ورته مهال د مرستو ترلاسه کوونکو له یاد ریاست خوښۍ ښرگنده کړه او د نورو مرستو غوښتنه یې هم وکړه.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، ۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، د زیانونو له کره ارزونې وروسته، هغو 9 کورنیو ته چې د اورلگېدنې له امله زیانمنې شوې وې، د خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې. د مرستو دغه وېش د ولایت مقام او د کډوالو چارو ریاست د گډ پلاوی په شتون کې ترسره شو.

هرې کورنۍ ته 100 کیلو آرد، 50 کیلو وریجې، یو جوړه څپلکې، یو بوتل 5 لیټره غوړی او یو پلاستیکی سطل ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث پنجشیر برای ۱۳۱ خانواده متضر مساعدت نقدی انجام داد



**ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر با حمایت سازمان بین‌المللی مهاجرت برای ۱۳۱ خانواده که در طول سال جاری از اثر بارندگی‌ها و سیلاب متضرر شده بودند مساعدت نقدی انجام داد.**
**قابل ذکر است که این خانواده‌ها قبلا نیز تحت پوشش کمک‌ها قرار گرفته بودن؛ اما اکنون به دلیل زمستان پیشرو، برای هر کدام مبلغ ۲۲۲۰۰ افغانی پول نقد توزیع شد.**

## د کندز ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۰ کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې



د کندز ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د خپلو مرستو په ترڅ کې نن ورځ 230 مستحقو کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې.
په دې بهیر کې، د چهاردرې ولسوالۍ 120 کورنیو او د علی‌آباد ولسوالۍ 110 کورنیو هرې یوې ته 50 کیلو اوړه او 2 کیلو بوره ورکړل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث پنجشیر برای ۱۰۰ خانواده شهدا و معلولین مساعدت خوراکی توزیع کرد



**ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۰۰ خانواده ورثه شهدا و معلولین مساعدت غذایی انجام داد.**
**در این روند به ادامه کمک‌های قبلی برای هر خانواده مقدار ۵۰ کیلو آرد و ۲۵ کیلو برنج توزیع شد.**

## په میدان وردګ ولایت کې ۱۶۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشل شوې




د میدان وردګ ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د طبیعی، غیر طبیعی او اقلیمی بدلونونو له کبله زیانمنو 160 کورنیو ته د جغتو ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې له کره سروې وروسته خوراکی او روغتیایی مرستې ووېشلې.
دغه مرستې د مقام ولایت په لارښوونه، د هرې کورنۍ لپاره 50 کیلوګرامه اوړه، 25 کیلوګرامه وریجې، د یونیسف موسسې لخوا د حفظ الصحې کیټ او د عامه پوهاوی بروشرونه ووېشل شول.
د دې ریاست محترم رئیس مولوی فیض الله جلالی وویل چې دا به د زیانمنو کورنیو لپاره لومړنۍ او وروستۍ مرستې نه وې، او په راتلونکې کې به هم زیانمنو کورنیو ته مرستې برابرې شي. نوموړي له خلکو وغوښتل چې د حفظ الصحې له پوهاوی مواد څخه ګټه پورته کړي او د نظام او اسلامی امارت لپاره دعا وکړي.

## ۱۱۱ کورنیو ته په بغلان ولایت کې د حمام کېټونه ووېشل شول او د اوبو رسونې د شبکې چارې بشپړې شوې




د CIKA موسسې د بغلان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، په مرکزی بغلان ولسوالۍ کې د هوفیانو او باشي الله داد کلیو لپاره د اوبو رسونې شبکې پروژې چارې بشپړې او 111 کورنیو ته د حمام کېټونه ووېشل.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د یاد ریاست، د مرکزی بغلان ولسوالۍ، موسسې او یو شمېر نورو مسؤلینو په شتون کې، د ځان مینځلو 20 مکروب ضد صابونونه، د جامو منځلو 7 صابونونه، یو پلاستیکی بوشکه (10 لیتره)، او نور روغتیایی وسایل ووېشل شول.

## ۶۱ زیانمنو کورنیو په بدخشان کې د کورونو ترمیم لپاره نغدی مرستې ترلاسه کړې



اکتېډ موسسې د بدخشان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، 61 زیانمنو کورنیو ته د سرپناه د ترمیم په موخه نغدی مرستې ووېشلې. دې موسسې په دویم قسط کې 61 کورنیو ته نغدی پیسې ووېشلې، چې هرې کورنۍ ته 14،770 افغانۍ ورکړل شوې.
له دې جملې، 28 هغو ښځو ته چې د کورنۍ سرپرستۍ یې کوله، د 14،770 افغانیو سربېره، 2،350 افغانۍ امتیازی مرسته هم ورکړل شوه، چې په مجموع کې هرې یوې ته 17،120 افغانۍ ورکړل شوې.
په مجموع کې، 966،770 افغانۍ نغدی مرستې 61 زیانمنو کورنیو ته ووېشل شوې.

## د ۳ شهيدانو ورثه ته په نيمروز ولايت کې نغدی مرستې وووېشل شوې



د نيمروز ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست، د ياد ولايت اړوند 3 کورنيو ته چې د کورنۍ غړی يې د طبيعي پېښو له امله شهيدان شوی و، نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د ياد ولايت والی محترم شيخ محمد قاسم خالد او د نيمروز ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست مشر محترم الحاج مولوی محمد قاسم محمد په شتون کې د هر شهيد کورنۍ ته 20000 افغانۍ ووېشل شوې.

## ۵۵ مستحقو کورنيو سره په بادغيس کې خوراکی او غير خوراکی مرستې ترسره شوې



د بادغيس ولايت مقام د حکم پر بنسټ، د ياد ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست، 55 بېوزله کورنيو ته خوراکي او غيرخوراکي مرستې ووېشلې.
ياد شمېر هرې کورنۍ ته 25 کيلو وريجې، 10 ليټره غوړي، 12 کيلو مکروني، يو کارټن مګی آش او دوه جوړه کرتۍ جامې ووېشل شول.

## ۶۱ زيانمنو کورنيو په بدخشان کې د کورونو ترميم لپاره نغدی مرستې ترلاسه کړې



اکتيډ موسسې د بدخشان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست په همغږۍ، 61 زيانمنو کورنيو ته د سرپناه د ترميم په موخه نغدی مرستې ووېشلې. دې موسسې په دويم قسط کې 61 کورنيو ته نغدي پيسې ووېشلې، چې هرې کورنۍ ته 14،770 افغانۍ ورکړل شوې.
له دې جملې، 28 هغو ښځو ته چې د کورنۍ سرپرستي يې کوله، د 14،770 افغانيو سربېره، 2،350 افغانۍ امتيازی مرسته هم ورکړل شوه، چې په مجموع کې هرې يوې ته 17،120 افغانۍ ورکړل شوې.
په مجموع کې، 966،770 افغانۍ نغدی مرستې 61 زيانمنو کورنيو ته ووېشل شوې.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له 323 زیانمنو کورنیو سره نغدی مرستې وکړې




د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان په ملاتړ, د روی دوآب, خرم و سارباغ, فیروز نخچیر او حضرت سلطان ولسوالیو اړوند 323 کورنیو ته چې پخوا د سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې.
له سروې وروسته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وړاندیز پر بنسټ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سره د تفاهم نامې له مخې, د IOM موسسې له لوري هرې کورنۍ ته 17250 افغانۍ نغدی پیسې او یو ژمنۍ کېټ د ولایت محترم مقام استازی, د علماوو شورا استازی, له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مشر مولوی احسان الله احسان او د اړوندو ادارو استازو په شتون کې وویشل شوې.

## د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۰۱ زلزله ځپلو کورنیو سره د دویم قسط نغدی مرستې وکړې




د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په ملاتړ، د یاد ولایت انجیل ولسوالۍ بېلا بېلو کلیو اړوند 101 زلزله ځپلو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې د هرې کورنۍ د زیان کچې ته په کتو، هرې کورنۍ ته له 4000 نه تر 27000 افغانیو نغدی پیسې ووېشل شوې. په دې بهیر کې په مجموع کې 1،442،400 افغانۍ وېشل شوې دی. دغه مرستې د زلزلې ځپلو کورنیو د سرپناه بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه ووېشل شوې او تمه کیږی چې د دوی د ژوند په ښه کولو کې به مثبت اغېز وکړی.

## د ننګرهار ولایت له پیښو سره دمبارزې آمادګئ ریاست له لوری په سره رود ولسوالۍ کې د بېوزلو کورنیو لپاره دIRCموسسې په مالی مرسته د خوراکی توکو د برابرولو په خاطر نغدی مرسته ترسره شوه



په دې پروسه کې هرې یوې کورنۍ ته 2700 افغانۍ ورکړل شوې.
د دې مرستې له ګټو اخیستونکو کورنیو شمېر 260 کورنۍ و  چې 702000 افغانۍ مرسته پرې وویشل شوه
دا مرسته د بېوزلو کورنیو لپاره دویم قسط و او د راتلونکو مرستو پلان هم شته
ددې پروسې همغږی او څارنه د ننګرهار له  پیښو سره دمبارزې آمادګۍ ریاست له خوا ترسره شوه
د دې مرستې موخه د هغو کورنیو ملاتړ دی چې د اقتصادی ستونزو او بېوزلۍ له امله د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو توان نه لری.
دا مرسته به د خوراکی توکو برابرولو په برخه کې د هغوی ستونزې راکمې کړی.